# څه حال دی د هغو خلکو چې داسې او داسې یې ویلي؟ خو زه لمونځ کوم او ویده کېږم، روژه نیسم او بوزه کېږم، او له ښځو سره واده کوم، نو څوک چې زما له سنت (طریقې) نه مخ اړوي، هغه زما له امت څخه نه دی

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې: د پیغمبر ﷺ د صحابه کرامو څخه څو تنو د هغه ﷺ له مېرمنو څخه د هغو عملونو په اړه پوښتنه وکړه چې هغه یې په پټه کوي؟ (کله چې خبر شول) نو ځینو یې وویل: زه به له ښځو سره واده نه کوم، او ځینو وویل: زه به غوښه نه خورم، او ځینو وویل: زه به پر بستره کې نه ویده کېږم (یعني همیشه به عبادت کوم)، نو پیغمبر ﷺ وفرمایل: «څه حال دی د هغو خلکو چې داسې او داسې یې ویلي؟ خو زه لمونځ کوم او ویده کېږم، روژه نیسم او بوزه کېږم، او له ښځو سره واده کوم، نو څوک چې زما له سنت (طریقې) نه مخ اړوي، هغه زما له امت څخه نه دی».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

د صحابه کرامو رضی الله عنهم یوې ډلې د پیغمبر ﷺ د مېرمنو کورونو ته ورغلل، څو د هغه ﷺ د پټ عبادت په اړه ترې پوښتنه وکړي چې هغه یې په خپل کور کې کوي؟ نو کله چې خبر شول داسې یې وګڼله لکه چې دا عبادت کم دی، نو ویې ویل: موږ د نبي ﷺ سره څنګه ځان پرتله کولی شو؟ حال دا چې د هغه پخواني او راتلونکي ګناهونه بخښل شوي دي، د هغه چا خلاف چې نه پوهېږي ګناهونه یې بخښل شوي که نه، نو هغه ته پکار دي چې عبادت کې زیاته هڅه او مبالغه وکړي، پدې هیله چې بخښنه ورته شي. ځینو یې وویل: زه له ښځو سره واده نه کوم. او ځینو یې وویل: زه غوښه نه خورم. او ځینو یې وویل: زه په بستره کې نه ویده کېږم. نو د دوی دا ویناوې نبي صلی الله علیه وسلم ته ورسېدې، نو د الله تعالی حمد او ستاینه یې ادا کړه او ویې فرمایل: د هغو خلکو څه حال دی چې داسې او داسې خبرې کوي؟! قسم په الله، زه له تاسو ټولو نه زیات د الله نه ویره لرم او تر ټولو ډېر پرهیزګاره یم، خو زه ویده کېږم تر څو د شپې لمانځه ته ځواکمن شم، او د دې لپاره بوزه کېږم، (یعنې هره ورځ پرلپسې روژې نه نیسم) تر څو د نورو روژو نیولو توان ومومم، او له ښځو سره واده کوم او یو ځای کېږم، نو څوک چې زما له طریقې مخ اړوي، او کمال په بلې لارې کېویني، او د بل چا طریقه خپلوي نو هغه زما له امت څخه نه دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6078

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee